
# د پښتو ژبي لنډ ګرامر



Ketabton.com

ترتیب کوونکئ: عبدالعلي رسول زاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتو ژبي لنډ ګرامر

د پښتو ژبي دغه لنډ ګرامر په سویډن کي د مورنۍ ژبي پښتو د زده کوونکو سره د مرستي د پاره لیکل سوئ دئ. پدې لیکنه کي تر ډیري اندازې پوري کوښښ سوئ دئ چي د پښتو ژبي ګرامر په لنډه توګه د زده کوونکو سره لومړی د پښتو ژبي په زده کړه کي او بیا د سویډني ژبي د ګرامر په زده کړه کي مرسته وکړي. خو پدې لیکنه کي بیا هم د پخوا په شان ټوله نومونه په عربي لیکل سوي دي لکه اسم ، صفت ، ضمیر او نور. دا ځکه چي که د دغو زده کوونکو سره ځوک تر ښوونځي د باندي مرسته کوي نو شاید هغوي به زیاتره د دغه عربي نومو سره پېژندګلوي ولري.

د دغه لیکني د پاره د ایازي صاحب د ګرامر او د سویډني ژبي د ګرامر څخه مرسته اخیستل سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتو ژبې الفبې

د پښتو ژبې د الفبې توري په لاندي ډول ليکل کيږي:

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض
ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و ه ی

په پورتنيو تورو کي دغه لاندي اته توري خاص د پښتو توري دي:

ټ څ ځ ډ ړ ږ ښ ڼ

که څوک غواړي چي سوچه پښتو خبري يا ليکنه و کړي نو هغه کلمې دي
په خپلو ليکنو او خبرو کي خوښي کړي چي د دغو اتو تورو د جملې څخه يو
يا څو توري پکښې راغلي وي.

د الفبې په پورتنيو تورو کي دغه لاندي لس توري د عربي ژبې توري دي
ياني که په کومه کلمه کي يو يا څو د دغو تورو څخه راغلي وي نو هغه کلمه
عربي ده:

ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو ژبه کي اواز لرونکي توري:

په پښتو کي(و ا ی ) اواز لرونکي توري یا Vokaler او هغه نور توري یې بې اوازه یا Konsonanter دي.

په سویډني ژبه کي یو شمېر اواز لرونکي توري اوږده او یو شمېر لنډ اواز ور کوي لکه: په bok کي چي o اوږد اواز ور کوي ځکه چي تر o وروسته یو بې اوازه توری راغلئ دئ یاني که یې په پښتو ولیکو نو به (بوک ) و لیکل سي. او په bock کي به o لنډ اواز ور کي ځکه چي تر o وروسته دوه بې اوازه توري راغلي دي که یې په پښتو و لیکو نو به (بک ) و لیکل سي یاني د (ب ) پر سر به (پېښ ) راغلئ وي چي هغه موږ نه دئ لیکلئ مګر دلته باید یو اواز لرونکئ تورئ راغلئ وای ، دا چي دغه اواز لرونکئ تورئ موږ نه دئ لیکلئ نو وایو چي په پښتو کي دغه لنډ اواز لرونکي توري نه لیکل کیږي چي هغه (زور ، زېر او پېښ )دي.

په پښتو کي(ی ) لاندي ډولونه لري:

(ی ) لکه سپی ، سړی ، غویی ، دی او داسي نور.
(ي ) لکه کالي ، بنګړي ، مامي ، دي او نور.
(ې ) لکه ادې ، شیدې ، مستې ، پایڅې او نور.
(ۍ ) ډوډۍ ، ګاډۍ ، چوکۍ ، غالۍ ، ملالۍ او نور. دا (ۍ ) د مونث یا ښځینه نومو د پاره راځي.
(ئ ) لکه ښوونکئ ، زده کوونکئ ، دئ او نور. دغه (ئ ) د مذکر یا نرینه نومو د پاره راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تلفظ د مخي دغه هره (ی ، ي ، ې ، ی، ئ ) په هر ځای کي خپل اواز ساتي مګر د پښتو ژبو مناطقو تر منځ د ځينو کلمو په تلفظ کي څه تو پير سته لکه:

څوک وايي: دا کتاب دئ.

څوک وايي: دا کتاب دې.

څوک وايي: دا کتاب دی.

۱ ـ تمرين:

اوس نو يوه سپينه پاڼه راواخلئ او په دا لاندي جملو کي د خپل تلفظ له مخي (ی ) صحيح کړئ او بيا يې د کتاب په پای کي د جوابو د پاڼي سره و ګورئ:

يو سړی ډاکتر ته ورغی او د خپلی ناروغی څخه يی شکايت وکړ.

ډاکتر ور ته وويل: "ولی وختی را نه غلی؟"

ناروغ ورته وويل: "پخوا می د يوناني طبيب څخه دوا اخيستله."

ډاکتر وويل: "هغه مزخرف سړی دی او د څو مزخرفو دواوو نومونه يی زده دی او ډېر نه پوهيږی."

ناروغ وويل: "هو ! ستا مزخرف نوم يې هم زده وو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کي(و ) دوه ډوله تلفظ کيږي مګر په ليکلو کي دواړه يو شان ليکل کيږي لکه:

(و ) لکه: زانګو ، بيزو ، ښارو ، کاکو او نور. چي زياتره د مونث (ښځينه ) نومو د پاره راځي.

(و ) لکه: کډو ، بازو ، زوی ، بوی او نور. چي زياتره د مذکر(نرينه ) نومو د پاره راځي.

په پښتو کي(ه ) دوه ډوله تلفظ کيږي لکه:

(ه ، ـه ) لکه: پښه ، ګډوه ، ښځه ، پښتنه او نور.

(ه ، ـه ) لکه: وراره ، کاڼه ، ويده(بيده ) او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلمه Ord

هر مانا لرونکئ تورئ کلمه بلل کیږي لکه زه ، دوی ، مېز ، کتاب او نور.
کلمه لاندي ډولونه لري:

| | |
|---|---|
| اسم( نوم ) | Substantiv |
| ضمیر | Pronomen |
| صفت | Adjektiv |
| فعل | Verb |
| قید | Adverb |
| د وصل یا یو ځای کولو تورئ | Konjunktion |
| د ارتباط تورئ | Preposition |

## اسم یا نوم substantiv

اسم هغه کلمه ده چي د یو شي، انسان، حیوان یا ځای نوم وي لکه: سړی، کتاب، ښوونځی، کور، موږک، ښار، کاغذ ، افغانسان، خوب، ژړا ،خندا او نور.

۲_ تمرین:
اوس نو یوه سپینه پاڼه او قلم را واخلئ او په لاندي کرښو کي اسمونه پیدا کئ اوبیا یې د جوابو د پاڼي سره وګورئ.
یوه سلماني د یوه سړي سر په پځه چاړه ور خرایه او پر سر یې ویني را بهېدې.پدي وخت کي سلماني پوښتنه ځیني وکړه:څو ورونه یاست؟
سړي جواب ورکړ: که ستا د چړې څخه ژوندی پاته سوم نو درې ورونه یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسم پر دوه ډوله دئ لکه عام اسم او خاص اسم

الف _ عام اسم:

هغه اسم ته وايي چي د هغه جنس د ټولو غړو نوم وي لکه مېز، کتاب، هلک، ښځه، ښار، قلم، غوا او نور

ب _ خاص اسم:

هغه اسم ته ویل کیږي چي دهغه په ډول بل نه وي.لکه احمد ، کابل، مالمو ، حلیمه، جرمنی، لمر او نور.

۳- تمرين:

په لاندي جملو کي عام او خاص اسمونه پيدا کئ او بيا يې د جوابو د پاڼي سره وګورئ:

کله چي احمد شاه بابا دهندوستان تر سفر وروسته د خپل لښکر سره بيرته د کندهار خوا ته را رهي سو ، د کندهار ښار ته نيژدې يې د شپې د تېرېدو تياري

ونيول. يو عسکر په تېښته کور ته ولاړ.

اسم د شمېر د مخي يا مفرد( يو ) وي او يا جمع ( ډېر ).

مفرد يعني ( يو ) لکه قلم، کاغذ ، مېز، سړی او نور.

جمع يعني ( ډېر ) لکه قلمان، کاغذونه، مېزونه، سړيان، يا سړي او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤ – تمرین:

په لاندي جملو کي لومړی اسمونه پیدا کئ او بیا یې جمعي ولیکئ:

یوه غله د یوه سړي د کور د بوال سوری کړ او کور ته ننوت. د کور خاوند پر را ویښ سو. غل وبېرېدئ او ویې غوښتل چي دد بوال تر سوري ووزي.د کور خاوند تر پښه ونیوئ. غله ناره کړه: وروره ! دا پښه مي خوږیږي ، هغه بله پښه مي ونیسه، د کور خاوند د غله پښه ایله کړه، غل ځني وتښتېد.

اسم د حالت له مخي یا فاعل وي یا مفعول:

فاعل subjekt:

فاعل هغه څوک یا شی دئ چي یو کار کوي یاني فعل یا کار د ده له خوا اجرا کیږي لکه:

احمد ښوونځي ته ولاړ.

په لوړه جمله کي احمد فاعل دئ.

مفعول objekt :

مفعول هغه څوک دئ چي د فاعل فعل یا کار پر اجرا کیږي لکه:

زمرک سدو ته وویل.

په لوړه جمله کي سدو مفعول دئ ځکه چي د ویلو فعل پر اجرا کیږي.

یو بل مثال یې لکه: ښوونکي زده کووني ته وویل.

پدې جمله کي ښوونکئ فاعل او زده کوونکئ مفعول دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ - تمرين:

په لاندي جملو کي فاعل او مفعول پيدا کئ او بيا يې د جوابو د پاڼي سره وګورئ.

خوشال انځر کل ته وويل ، د جمعې په ورځ به موږ احمد ووينو. احمد يو ډېر ښه ټيلويزيون لري، موږ به په هغه ټيلويزيون کي د فټبال لوبه وګورو. بيا به موږ د احمد د پلار سره خبري وکړو.

اسم د جنس د مخي دري ډوله دئ لکه:

مونث (ښځه ): لکه غوا ، پېښه، پياله، انا ، بيزو او نور.
مذکر ( نر ) : لکه نيکه، پلار، ورور، توتي او نور.
مستوي جنس: چي دواړو نر او ښځي ته يو ډول راځي لکه مېږی، شپږه ، کيکه، مچ ، غوماشه او نور.

## ضمير pronomen

ضمير هغه کلمه ده چي د اسم يا نوم پر ځای راځي لکه:

| | |
|---|---|
| زه | موږ |
| ته | تاسي |
| دی، دا ، دغه | دوی |
| زما | زموږ |
| ستا | ستاسي |
| دده، ددې | ددوی |
| ددغه | ددغو |

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نور. په لاندي جملو کي د ضميرو مثالونه وګورئ، تر هر ضمير لاندي خط کش سوئ دئ:

دي لوست زده کړ.

زه ستو کهولم ته ولاړم.

ما دده سره خبري وکړې.

ته ولي نه وې راغلئ.

٦ ـ تمرين:

په لاندي جملو کي ضميرونه پيدا کئ او بيا يې د جوابو د پاڼي سره وګورئ:

دد دوی سره خبري کولې چي ددې ورور راغئ. ما ددې کتابونه وروړه.

تا ولي دوی ته خبر ورکړ چي زما قلم ورک سو.

ضمير دغه درې حالته لري لکه:

| | |
|---|---|
| متکلم | förste person |
| مخاطب | andre person |
| غايب | tredje person |

متکلم هغه څوک دئ چي خبري کوي لکه:

زه کور ته ځم. دلته ( زه ) متکلم دئ.

موږ کور ته ځو. دلته ( موږ ) متکلم دئ.

مخاطب هغه څوک دئ چي متکلم خبري ورته کوي لکه:

ته کور ته ولاړ سه. دلته ( ته ) مخاطب دئ.

تاسي کور ته ولاړ سئ. دلته ( تاسي ) مخاطب دئ.

غايب هغه څوک دئ چي متکلم د مخاطب سره دده په باره کي خبري کوي لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی کور ته ځي. دلته ( دی ) غایب دئ.
دا کور ته ځي. دلته ( دا ) غایب دئ.

دغه راوړه. دلته ( دغه ) غایب دئ.
دوی کور ته ځي. دلته ( دوی ) غایب.
متکلم، مخاطب او غایب واحد او جمع لري لکه:

| | |
|---|---|
| د متکلم مفرد | زه، ما |
| د متکلم جمع | موږ |
| د مخاطب مفرد | ته، تا |
| د مخاطب جمع | تاسي |
| د غایب مفرد | دی، دا ، دغه |
| د غایب جمع | دوی |

۷ ـ تمرین:
په لاندي جملو متکلم، محاطب او غایب ضمیرونه پیدا کړئ:
تاسي ددې په باره کي دده سره حبري نړي دي.
دوی ما ته کتاب را کړ.
ما لا خپل لوست نه وو خلاص کړئ چي دوی راغله.
تا چي زموږ سره خبري وکړې دوی راغله.
هغې چي تاسي ولیدلاست ډېره خوشاله سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Adjektiv صفت

صفت هغه کلمه ده چي پر اسم تاثير کوي لکه:
جګ سړی، توره غوا ، زوړ کتاب، کوچنی هلک، ښه مېوه او نور.
دلته جګ، توره، زوړ، کوچنی، او ښه صفتونه دي.

۸ ـ تمرين:
په لاندي جملو کي صفتونه پيدا کړئ
احمد ښه زده کوونکئ دئ.
زموږ کور په هغه سره تعمير کي دئ.
احمد چي راغئ د ځانه سره يې يو ښکلئ بايسکل راوست.
پدې لوی ښار کي د برېښنا جګي پايې سته.

# فعل :verb

فعل هغه کلمه ده چي ديوه کار کول ښکاره کوي لکه:
ځم، خورو ، ليکې، راوړئ، ګوري، خاندي او داسي نور.

۹ ـ تمرين:
پدې لاندي جملو کي فعلونه پيدا کړئ:
ميرويس د ښوونځي څخه راځي. پر لاري د احمد ورور ور سره ملګرئ کيږي. بيا نو د کتاب خرڅوونکي ددکان څخه کتابونه را اخلي. کله چي يې کتابونه راوړه بيا نو د خپل ښوونکي سره خبري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی – حال presens:

هغه زمانه (وخت) دئ چي يو کار اوس کيږي لکه:
ځم، ليکي، خورئ، وړئ او نور.

## دوهم – ماضي يا تېره زمانه:

دا هغه زمانه ده چي يو کار په تېر وخت کي سوئ وي او دا زمانه پر دريو ډوله ده لکه.

### الف ـ مطلقه ماضي imperfekt:

چي يو کار په تېره زمانه کي سوئ وي لکه:
احمد ښوونځي ته ولاړ.
تا ډوډۍ وخوړه.
زه کور ته راغلم.
موږ ښوونځي ته ولاړو.
او نور.

### ب ـ قريبه يا نيژدې ماضي perfekt:

پدې زمانه کي يو کار اوس ته نيژدې په تېره زمانه کي سوئ وي لکه:
تا ډوډۍ خوړلې ده.
موږ کتاب راوړئ دئ.
تاسي کور ته تللي یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج ـ بعیده یا لیري تېره زمانه pluskvamperfekt :

چي یو کار په لیري تېره زمانه کي سوئ وي لکه:

موږ خپل کار کړئ وو.

ته کابل ته تللئ وې.

دوی راغلي وه.

دې د خپل پلار سره خبري کړي وې.

دریم ـ راتلونکې زمانه futurum:

چي یو کار په راتلونکې زمانه کي کیږي لکه:

احمد به راسي.

موږ به وخاندو.

دوی به خط ولیکي.

۱۰ ـ تمرین:

په لاندي جملو کي لومړی فعلونه پیدا کئ او بیا وښیاست چي په کومه زمانه کي پېښ سوئ دئ. اوبیا یې د جوابو د پاڼې سره وګورئ.

دی زما سره کابل ته ځي.

ته خپل لوست لولې.

دوی د احمد دتره سره ولاړه.

ما خپل کتاب لوستلئ دئ.

دې تاسي ته پخوا ویلي وه.

هغه به سبا د افغانستان څخه راسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مصدر** infinitiv :

**مصدر هغه کلمه ده چي د هغه څخه د فعل مختلف حالتونه جوړيږي او د مصدر په اخر کي (ل) وي لکه:ليکل، کتل، ښکاره کول، ښکاره کېدل، ځغستل، پرېکېدل او نور.دلته به يو مثال راوړو چي څرنګه د خوړل د مصدر څخه د فعل نور حالتونه جوړيږي**

مثال:

خوړل

| حال | مطلقه ماضي | قريبه ماضي | بعيده ماضي | راتلونکي |
|---|---|---|---|---|
| خورم | و مي خوړ | خوړلئ مي دئ | خوړلئ مي وو | وبه يې خورم |
| خورو | و مو خوړ | خوړلئ مو دئ | خوړلئ مو وو | و به يې خورو |
| خورې | و دي خوړ | خوړلئ دي دئ | خوړلئ دي وو | وبه يې خورې |
| خورئ | و مو خوړ | خوړلئ مو دئ | خوړلئ مو وو | وبه يې خورئ |
| خوري | و يې خوړ | خوړلئ يې دئ | خوړلئ يې وو | وبه يې خوري |

د فعل يا کارکولو څخه وخت هم ښکاره کيږي لکه حال (اوس) ، ماضي (تېره زمانه ) او استقبال ( راتلونکې ) زمانه.اوس به دلته هره هره زمانه ولولو:

امر imperativ:

دا فعل ديوه کار د کولو امر کوي لکه:

ډوډۍ وخوره!

دلته راسه!

کور ته ولاړ سه!

کتاب ووايه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

متعدي او لازمي فعل:

**متعدي فعل** transitiv verb:
هغه فعل ته ويل کيږي چي فاعل او مفعول دواړه ولري لکه:

ماتول، پرې کول، بيدول، ايسته کول، خوړل او نور.
احمد قلم مات کړ. په دغه جمله کي( احمد ) فاعل،( قلم ) مفعول او (مات کړ ) متعدي فعل دئ چي د ماتول د مصدر څخه جوړ سوئ دئ.

**لازمي فعل** intransitiv verb:

هغه فعل ته ويل کيږي چي مفعول لري او په جمله کي د فاعل و ښکاره کولو ته ضرورت نه وي لکه:
ماتېدل، پرې کېدل، ايسته کېدل، بيدېدل او نور.

مثال: قلم مات سو. دلته (قلم) مفعول دئ او مات سو لازمي فعل دئ. پدې کي شک نه سته چي د( ماتېدل ) فعل يو فاعل لري مګر دلته په جمله کي نه دئ راغلئ.

١١ – تمرين:
د( غوڅارول ) د متعدي فعل او د( غوڅارېدل ) دلازمي فعل د مصدرو څخه د فعل نور حالتونه جوړ کړئ او بيا يې د جوابو د پاڼي سره وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قید adverb

قید هغه کلمه ده چي پر فعل، صفت او بل قید باندي تاثیر وکي لکه په لاندي جملو کي:

ــ سدو په خندا راغئ.

په لوړه جمله کي ( په خندا ) قید دئ ځکه چي د راغئ پر فعل یې تاثیر کړئ دئ.

ــ دده کور په هغه ډېر جګ تعمیر کي دئ.

په لوړه جمله کي ( ډېر ) قید دئ ځکه چي د ( جګ ) پر صفت یې تاثیر کړئ دئ.

ــ زمرک ډېر ژر راغئ.

په لوړه جمله کي ( ډېر ) قید دئ ځکه چي د ( ژر ) پر قید یې چي د ( راغئ ) د فعل د پاره قید دئ، تاثیر کړئ دئ.

## د وصل توري konjunktioner

دا هغه توري دي چي دوه اسمونه یا دوې جملې سره منبلوي لکه په لاندي جملو کي:

احمد او محمود راغله.

ده وویل چي دی ناروغه دئ.

دی راغئ مګر دوی را نه غله.

که ځه هم ته په کور کي نه وې زه راغلم.

دی به درسي که ته غواړې.

یا دی یا دا به موټر وچلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څومره چي مي درته وويل غوږ دي ونه نيوئ.
احمد رانه غئ لکه چي نا جوړه وو.
په لوړو جملو کي ( او ، چي، مګر ، که څه هم، که، يا..... يا ، هر څومره چي، لکه چي
) د وصل توري دي.

## د ربط توري preposition

د ربط توري د اسم يا ضمير سره يو ځای راځي او د اسم يا ضمير رابطه د فعل سره ښيي لکه:
احمد محمود ته وويل.
ما په ښوونځي کي لوست وو ايه.
په لوړو جملو کي ( ته، په ) د ربط توري دي.
د ربط نور توري لکه: ( پر ، تر ، له، سره ، څخه، و ، د ، پوري، باندي، په...کښي، د...څخه او نور ).

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**